# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**2حوت _سال 1402**





# اخبار مهم

## افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د مهاجرینو وزارت او د شپږو موسسو ترمنځ د څه باندې ۶ میلیونه ډالرو په ارزښت د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شول 1
بیش از ۱۰ هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد ---------------------------------------------------------------2
غور ولایت کې ۲۵ تنو ته کاري وسایل وویشل شول---------------------------------------------------------------2
رئیس مهاجرین ولایت بلخ، با نمایندگان شهرک های مهاجرین دیدار کرد ------------------------------------------3
ایران کې تر ۱۰۰۰ زیات مېشت افغان مهاجرین په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شول ---------------4
بیش از ۱۰۰ مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود--------------------------------------------------------5
په میدان وردګو ولایت کې له ۱۵ کورنیو سره مرسته وشوه ------------------------------------------------------5
ملګري ملتونه: روندا ته د کډوالو استول له بشري حقونو سره په ټکر کې دي -------------------------------------5
فرانسه: څلور شکمن انساني قاچاق وړونکي محکمې ته معرفي شول ----------------------------------------------7
کانال مانش: راننده یک قایق به جرم قتل عمد متهم شد --------------------------------------------------------10
»گئو بارنتس» ۱۲۱ تن را در بحیره مدیترانه نجات داد --------------------------------------------------------11
تفاهم‌نامه آغاز مطالعات تخنیکی – اقتصادی پروژه خط آهن «افغان ترانس» امضا شد ----------------------------12

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو وزارت او د شپږو موسسو ترمنځ د څه باندې ۶ میلیونه دالرو په ارزښت د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شول

د وزارت ویب سایت




د ۶ میلیونه ۳۱۵ زرو او ۶۳۶ امریکایي ډالرو په ارزښت د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت او ډاکار موسسې، د افغانستان د روغتیا او تولنې بیارغونې، د ډنمارک د مهاجرت شورا، د ماشومانو د ساتنې نړیوالې  موسسې انصاري بیارغونې او ( JRS ) موسسې ترمنځ د همکاریو تړونونه لاسلیک شول.

د دې هوکړه لیکونو له مخې، د ډاکار موسسه د ۲ میلیونه ۴۵۱ زره ۷۸۶ ډالرو په ارزښت ۵۰ څاګانې جوړوي؛

دبیا رغونې موسسه به په ننګرهار، لغمان او کونړ کې  د ۳ سوه ۶۳ زره او ۶۲ تنو لپاره ۱۰۰ څاګانې، ۵۰۰ شکو فلټرونو وېش، د ۵۵۰ تشنابونو جوړول، د حفظ الصحې د ناستو تنظیمول، د څښاک پاکې اوبه، ۱۵۰کمودونه او د کڅافاتو د مخنیوي لپاره ۱۶۰ زره پلاستیکونه ویشي او د اوبو د کیفیت ازمایلو لپاره به ۲ زره ریجمټ واخلي.

د افغانستان د روغتیا او تولنې د بیارغونې موسسه د ۱ میلیون۳۲ زره او ۵۰ ډالره په ارزښت د یو کلنیک، پنځو شنو خونو، له سولري سیستم سره د ۱۵۰ سرپناوو جوړول او ترمیم، د دوه لپټاپ کمپیوټرونو، د قابله ګۍ د روزنې او په کابل، پروان او لوګر ولایتونو کې د سړک جوړونې چارې ترسره کوي چې ۵ زره کورنیو ته خدمات وړاندې کوي.

د ( JRS ) موسسه په کابل او هرات ولایتونو کې ۲ زره ۸۴۴ تنو ته د اوو کتابتونونو په جوړولو، د مشورې ورکولو، تخنیکي روزنې، ماشومانو ته د خوراکي توکو د وېش او د ښوونې په برخه کې ۹ سوه ۵۴ زره ۳۷۰ ډالره لګوي.

د ډنمارک د مهاجرت شورا به په ننګرهار ولایت کې د ۱ زرو او ۶۲۶کسانو د کرايې د ورکولو په برخه کې ۷۰۰ زره امريکايي ډالر نغدي مرسته لګوي.

په همدې ډول د انصاري بيارغوني موسسه په هرات، فراه، بادغيس او غور ولايتونو کې له ۱۵ زره او ۵۰۰ کورنيو سره ۵۶۴ زره ۳۰ ډالره د مرستو د ارزوني، د بې ځايه شويو او راستنېدونکو کورنيو د سروې، د سکتوري رياستونو تر مشرۍ لاندې د بې ځايه شويو د ګډې سروې او د نغدي او غيرې نغدي مرستو د وېش اړوند لګوي او د ماشوم ساتنې نړيواله موسسه په ننګرهار، لغمان او کونړ ولايتونو کې له ۲زره ۵۰۰ کورنيو سره ۵۰۰ زره ډالره نغدي مرسته کوي.

دا هوکړه ليکونه د وزارت د مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد او د يادو موسسو د استازو له خوا لاسليک شول.

## بیش از ۱۰ هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد

ویب سایت وزارت

در جریان یک ماه( دلو) گذشته بیش از ۱۰ هزارخانواده عودت کننده اجباری و بیجاشده در ۲۴ ولایت ازطریق کمتیه های موظف و واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.

طبق گزارشات واصله واحد های دومی وزارت امور مهاجرین درولایات قندهار، ننگرهار، بلخ، سمنگان، هرات، بامیان، جوزجان، بادغیس، لغمان، تخار، هلمند، فراه، فاریاب، لوگر، کندز، غزنی، کاپیسا، بغلان، سرپل، پکتیا پکتیکا، خوست، میدان وردک و پروان۱۰ هزار و ۴۹۴ خانواده عودت کننده اجباری و بیجاشده از اثر حوادث طبیعی را با همکاری شماری از سازمان های مدد رسان بین المللی، مساعدت نموده اند.

منابع اضافه نموده اند که مساعدتهای توزیع شده، شامل بسته های مواد غذایی، پوشاک زمستانی، پول نقد، صحی و بخاری بود که درحضور داشت نماینده های نهاد های کمک کننده توزیع شد.

## غور ولایت کې ۲۵ تنو ته کاري وسایل وویشل شول

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**په غور ولایت کې ۲۵ بې ځایه شویو او راستنېدونکو ښځو ته د سلواغې په ۳۰ مه نېټه کاري وسایل وویشل شول.**

**یادو کسانو تر دې وړاندې هم د پخلي په ځانګه کې د ۶ میاشتو لپاره حرفوي زده کړې ترلاسه کړې وې، چې وروسته د رازي مؤسسې له لوري پر دوی د ۶ ډوله کاري وسایل ووېشل شول.**

## رئیس مهاجرین ولایت بلخ، با نمایندگان شهرک های مهاجرین دیدار کرد

**ویب سایت وزارت**



مولوی اسد الله وفا، رئیس امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت بلخ، به منظور حل مشکلات مهاجرین در آن ولایت با نمایندگان شهرک های رسمی و غیر رسمی مهاجرین در شهر مزارشریف بتاریخ ۳۰ دلو دیدار و گفتگو کرد.

رئیس مهاجرین خطاب به نماینده گان گفت: اخیراً هزاران خانواده از پاکستان و ایران به ولایت بلخ آمده اند بنابراین هر زمان که تیم های کمک رسانی به محلات شما می آیند، سعی کنید افراد نیازمند و مستحق را معرفی نماید.

پس از آن نمایندگان مشکلات موجود در مناطق خود از جمله نبود سرپناه بیکاری، کمبود مواد خوراکی و غیر خوراکی را با ریس مهاجرین در میان گذاشتند.

آقای وفا افزود، با همکاری تعدادی از سازمان ها و نهادهای کمک رسان تاکنون این مشکل تا حد زیادی حل شده و مساعدت های لازم دیگر را نیز در نظر گرفته ایم که در اسرع وقت روند توزیع آن برای مستحقین آغاز خواهد شد.

## ایران کې تر ۱۰۰۰ زیات مېشت افغان مهاجرین په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

په ایران کې مېشت ۱ زرو او ۵۹۳ تنه مهاجرین د هرات د اسلام کلا له پولې د سلواغې په ۳۰ مه نېټه خپل هېواد ته راستانه شول.

د اسلام کلا د سرحدي آمر د معلوماتو پر بنسټ، په یادو شویو کسانو کې، چې کورنۍ هم په کې شاملې وې ۳۷۶ تنه اړمن وپېژندل شول او د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته وروپېژندل شول، خوراکي او غیرې خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**۳۵ تنه بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه د وارچېلډ مؤسسې ته ور وپېژندل شول، ۳۰ کورنیو ته لس ـ لس زره افغانی او ۷۰ تنو ته په وړیا ډول سیمکارتونه په یاده پوله کې د ګومارل شوې کمېټې له لوري ووېشل شول.**

## بیش از ۱۰۰ مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۱۸۳ تن مهاجر افغان به تاریخ ۳۰ دلو از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۱۵ خانواده که شامل ۹۲ تن طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند و پس ازثبت اداره مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی، برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار ۱۸ خانواده که شامل ۹۱ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## په میدان وردګو ولایت کې له ۱۵ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت

**په میدان وردګو ولایت کې د سلواغې په ۲۹ مه نېټه له ۱۵ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.**

**ذکر شوې کورنۍ، چې په خوا د دغه ولایت د مهاجرینو چارو د آمریت له لوري په شرایطو برابرې پېژندل شوې وې، چې وروسته هرې کورنۍ ته په دوو برخو کې ۱۰ زره او ۲۰ زره افغانۍ چې د ډنمارک د مهاجرت د شورا له لوري وې، د مهاجرینو چارو د آمریت تر څارنې لاندې ووېشل شوې.**

## ملګري ملتونه: رونډا ته د کډوالو استول له بشري حقونو سره په ټکر کې دي

مهاجرنیوز




**د ملګرو ملتونو د بشري حقونو لوی کمېشنر ولکر تورک د دوشنبې په ورځ وویل د برېتانیا هغه پلان چې له مخې به یې دغه هېواد ته په ناقانونه توګه رسېدلي کډوال روندا ته واستول شي د قانون د حاکمیت له اساسي اصولو سره په ټکر کې دی او بشري حقونو ته جدي زیان رسوي.**

**د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنر ولکر تورک د دوشنبې په ورځ د فبرورۍ په ۱۹ د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل، له برېتانیا څخه روندا ته د کډوالو استول «د بشري حقونو له بنیادي اصولو سره په ټکر کې دي.«**

**نوموړي زیاته کړه چې د دغه پلان له امله د کډوالو «د اخراج اړوندو فیصلو په ارزولو کې د محکمو صلاحیتونه په زیاته اندازه کم شوي دي». په وینا یې، «د قانون حاکمیت پر خپلواک او موثر قضایي کنټرول ولاړ دی: دا [اصل] باید پیاوړی شي او ورته باید درناوی وشي. حکومتونه نه شي کولی چې د قوانینو [په تصویبولو سره] د بشري حقونو او پناه غوښتنې په تړاو خپل نړیوال مکلفیتونه لغوه کړي«.**

**دغه چارواکي د ریشي سونک له حکومت څخه غوښتي دي چې د برېتانیا «د نړیوالو قضایي مکلفیتونو د مراعاتولو لپاره ضروري اقدامات وکړي او د خپلواک او اغېزناک قضایي کنټرول په برخه کې د برېتانیا ویاړلي تاریخ «ته پاملرنه وکړي.**

**دا هم ولولئ**
**برېتانیا: سناتورانو روندا ته د کډوالو استولو تړون رد کړ**

**»بشري حقونو د ټولو لپاره دي«**

ښاغلي تورک پر دې اندېښنه ښودلې ده چې د برېتانيا محکمې به روندا په اتوماتيک ډول «خوندي هېواد» وبولي. شاوخوا يوه اونۍ مخکې د برېتانيا يوې پارلماني کميټې هم ويلي وو چې د دغه قانون له مخې به «محکمې مکلفې وي چې روندا خوندي وبولي او د استيناف غوښتنو لپاره محکمو ته لاسرسی محدود شي.«

دغې ۱۲ کسيزې پارلماني کمېټې چې د کارګرو او محافظه کارو سياستوالو څخه جوړه شوې د فبرورۍ په دوه لسمه د يو راپور په خپرولو سره ليکلي وو، <u>روندا ته د کډوالو د استولو قانون د بشري حقونو په برخه کې د برېتانيا له مکلفيتونو څخه په ټکر کې دی</u> .د دغو استازو په خبره، دا په قانون کې څرګنده نه ده چې له روندا څخه نورو هېوادونو ته د کډوالو د نه استولو په اړه کوم «ضمانت» شته که نه .

په راپور کې زياته شوې وه چې بشري حقونه د ټولو انسانونو لپاره دي خو ياد ټرون ځکه له دغو حقونو څخه سرغړونه بلل کېږي چې يوې ځانګړې ډلې ته د ضمانت شويو حفاظتونو له ورکولو ډډه کوي. د دې قانون د تصويب په صورت کې به عامه ارګانونه اړ وي چې د بشري حقونو کنوانسيون د مفادو پر وړاندې عمل وکړي.

دا هم ولولئ
<u>د کډوالۍ مخنيوی: برېتانيا له روندا سره نوی ټرون لاسليک کړ</u>

روندا ته د کډوالو استونه د برېتانيا د پخواني لومړي وزير بوريس جانسون پروژه وه چې هېڅکله عملي نه شوه. د برېتانيا اوسنی لومړی وزير ريشي سونک چې له ناقانونه کډوالۍ سره مبارزه خپل اولويت بولي وايي، غواړي په ۲۰۲۴ کال کې دغه قانون عملي کړي. نوموړي د جنورۍ په مياشت کې دا کار «بېړنی ملي لومړيتوب» بللی و.

## فرانسه: څلور شکمن انساني قاچاق وړونکي محکمې ته معرفي شول

مهاجرنيوز




**فرانسوي رسنۍ خبر ورکوي د تېرې جمعې په ورځ څلور عراقي کردان چې د انساني قاچاق تور پرې لګول شوی د تور ښار محکمه کې حاضر شوي دي. ویل کېږي چې دغو کسانو شاوخوا سل کډوال په لاریو کې برېتانیا ته لېږدولي دي.**

**د فرانسوۍ <u>وېست فرانس</u> ورځپاڼې د خبر له مخې، دغه څلور عراقي کردان چې عمرونه یې له ۲۰ څخه تر ۴۰ کلونو پورې دي د تېرې جمعې په ورځ د فبرورۍ په ۱۶مه تور محکمه کې حاضر شول. پر هغوی تور دی چې د ۲۰۲۳ د اکتوبر څخه د ۲۰۲۴ د فبرورۍ تر ۱۳ پورې د سارت او اندر – اې – لوار له پارکېنګونو څخه په لاریو کې شاوخوا ۱۰۰ کډوال برېتانیا ته لېږدولي او یا یې د لېږدولو هڅه کړې ده.**

**وروسته له هغه چې تېر اکتوبر یوه لارۍ چلوونکي تور ښار ته څېرمه د فونتن کولت په پارکېنګ کې له خپل موټر څخه د مهاجرو یوه ډله وموندله، د فرانسې سرحدي پولیسو او په خانګړې توګه د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې ادارې یا اولتیم د احتمالي قاچاق وړونکو په اړه تحقیقات پیل کړل.**

**وېست فرانس د یوې سرچینې له قوله لیکلي دي: «دغو کسانو به د شپې له خوا کډوال له اسپانیا او پورتګال څخه راتلونکو یخچالي لاریو کې سپرول. دا یوه خورا پېژندل شوې طریقه ده».**

**سرحدي پولیسو همداراز موندلې چې نیول شویو عراقیانو د څلورو میاشتو په جریان کې ۲۵ ځله هڅه کړې چې کډوال لاریو کې سپاره کړي او د ناقانونه سفر په بدل کې یې د هر مهاجر پر سر له ۵۰۰۰ څخه تر ۶۰۰۰ یورو ترلاسه کړې دي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>انګلیس کانال: یو تن د کډوالو د کښتۍ چلولو په تور په ۱۸ میاشتو بند محکوم شو</u>**

**قاچاق وړونکي د سفر «څرنګوالي ته اهمیت نه ورکوي«**

**ډېری هغه کډوال چې قاچاقچیانو په ایل دو فرانس او یا کالې کې ورسره اړیکه نیولې په دې بریالي شوي چې په لارۍ موټرو کې چې په کښتیو کې د مانش کانال له لارې برېتانیا ته لېږدول کېدل ځانونه برېتانیا ته ورسوي.**

**سرچینې زیاته کړې ده، قاچاق وړونکي یوازې دې ته ګوري چې لارۍ موټرونه برېتانیا ځي که نه، دوی د سفر «څرنګوالي ته اهمیت نه ورکوي.«**

**ورځپاڼې دا هم لیکلي چې دوه شکمن عراقیان ایل دو فرانس کې له یوه کور څخه او دوه نور د پا دو کالې په یوه پارکېنګ کې نیول شوي دي. دوی چې اوس په توقیف خونه کې دي، د ۲۰۲۴ د مارچ په ۲۷مه محاکمه کېږي.**

**وروسته له هغه چې په ۲۰۱۸ کې کالې او مانش تونل کې امنیتي تدابیر زیات شول، کډوال هڅه کوي چې په کښتیو کې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي. خو کارپوهان وایي چې ځینې مهاجر د پیسو د نه لرلو له امله لا هم په لاریو کې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي.**

**دا هم ولولئ**

**<u>برېتانیا د انګلیس کانال له لارې د کډوالو د سفرونو د مخنیوي لپاره مشهورو ټیک ټاکرانو ته پیسې ورکوي</u>**

**فرانسوي چارواکو د جنورۍ په ۲۳مه کالې بندر کې په یوه <u>یخچالي لارۍ کې ۲۴ کډوال موندلي</u> وو چې د اریتریا اصلي اوسېدونکي وو. د موندل شویو کسانو په ډله کې چې غوښتل یې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي ۵ ښځې هم وې. د چارواکو په خبره، د لارۍ چلوونکی چې د ایټالیا تبعه دی د کډوالو د قاچاق په تور نیول شوی او سرحدي پولیسو ته یې سپارل شوی دی.**

## کانال مانش: راننده یک قایق به جرم قتل عمد متهم شد

مهاجرنیوز




**یک مهاجر سنگالی از سوی دادگاهی در بریتانیا به جرم قتل عمد چهار مهاجر در کانال مانش مجرم شناخته شد. او قایق پر ازدحام مهاجران را در این کانال هدایت می‌کرد.**

**مردی بنام ابراهیمه باه از سنگال که یک قایق مهاجران را در کانال مانش هدایت می‌کرد، از سوی دادگاه کانتربری در بریتانیا به قتل عمد چهار مهاجر که در این کانال غرق شدند، مجرم شناخته شد.**

**این مهاجر سنگالی در دسامبر ۲۰۲۲ در ازای عبور رایگان از کانال مانش، پیشنهاد هدایت قایق را داده بود.**

**او ادعا کرده بود که از سوی قاچاقچبران مجبور شده است با حداقل ۴۳ مهاجر دیگر در دریا سفر کند.**

**قضات دادگاه کانتربری وی را به دلیل تسهیل نقض قانون مهاجرت مجرم تشخیص داد.**

**دومینیک کاسیانی خبرنگار بی بی سی گفت: «این اولین باری است یک مهاجری که در یک قایق بادی سوار است، مسئول آسیب رسانی به دیگر سرنشینان آن شناخته می‌شود«.**

**متهم قبلاً به دادگاه گفته بود که «وقتی به ساحل فرانسه رسید و دید که قایق برای تعداد مسافران بسیار کوچک است، نظر خود را در مورد هدایت قایق به بریتانیا تغییر داد.» این قایق های بادی گنجایش بیش از ۲۰ تن را ندارد.**

**اما او مدعی شده است که توسط قاچاقبران مورد تعرض قرار گرفته و تهدید شده است که اگر به عبور مهاجران از کانال مانش ادامه ندهد، زندگی‌اش را از دست می‌دهد.**

**به گفته مقامات، مهاجران سوار بر این قایق، هزاران پوند به قاچاقبران پرداخت کرده‌اند و هیچ جلیقه نجات نداشتند.**

در همین زمینه

فرانسه: ایجاد مانع شناور در دریا برای جلوگیری از حرکت قایق های مهاجران به سوی بریتانیا

هرچند دولت بریتانیا و فرانسه تدابیر امنیتی را در سواحل هردو کشور افزایش داده اند اما مهاجران به کمک قاچاقبران به سفر دریایی خطرناک در کانال مانش برای رسیدن به بریتانیا ادامه می‌دهند.

در ماه اگست سال ۲۰۲۳ یک قایق پناهجویان در دریا غرق شد که بر اثر آن ۶ مهاجر افغان جان خود را از دست دادند.

چند روز پیش، روزنامه تایمز گزارش داد که جیمز کلورلی، وزیر داخله کشور بریتانیا، در حال بررسی فعالان یا تأثیرگذاران برخی کشورها در تیک تاک است تا از سفر پناهجویان از طریق کانال مانش به این کشور جلوگیری کنند .تهیه کنندگان در ازای ساخت ویدیوهای تبلیغاتی تیک تاک برای جلوگیری از سفر مهاجران هزینه دریافت خواهند کرد.

## » گئو بارنتس» ۱۲۱ تن را در بحیره مدیترانه نجات داد

مهاجرنیوز



کشتی نجات «گئو بارنتس» در سومین ماموریت اش که در روز دوشنبه انجام شد، ۳۷ تن را نجات داده و سوار کشتی کرد. اما نهادهای دولتی ایتالیا یک بندر دوردست را به آن اختصاص دادند.

سازمان «داکتران بدون مرز» که این کشتی را اداره می کند، روز دوشنبه گفت، خدمه کشتی با مجموعا ۱۲۱ فرد نجات یافته راهی بندر باری شدند که نهادهای دولتی به آن ها اختصاص داده بودند.

خدمه کشتی روز دوشنبه بیش از ۸۰ تن را در طی دو ماموریت نجات داده بودند. در طول یکی از این ماموریت های نجات جسد یک زن پیدا شد و یک زن دیگر پس از نجات در کشتی «گئوبارنتس» جان باخت. سه پناهجوی دیگر تا به حال پیدا نشده اند.

در همین زمینه
کشتی نجات گئو بارنتس با ۲۶ مهاجر نجات داده شده به سمت ایتالیا حرکت کرده است

سازمان »داکتران بدون مرز» اعلام کرد، چندین بار از نهادهای دولتی ایتالیا خواسته که نجات یافتگان را در یک بندر نزدیک تر پیاده کند و افراد جان باخته را به صورت آبرومندانه به خاک بسپارد.

خدمه کشتی آخرین ماموریت نجات را در مسیر باری انجام داد. به گفته آن ها افراد نجات یافته گفتند که از دست کم چهار روز پیش به این سو در یک قایق پرازدحام به سر می برند و در بحر سرگردان بوده اند. همه آن ها به شدت ضعیف شده بودند. بیش از آن بنا به اطلاعات نشر شده، یکی از مهاجران نجات یافته با هلیکوپتر از کشتی «گئو بارنتس» تخلیه شد تا به مالت انتقال یافته و در آن جا با سرعت هرچه بیشتر کمک های طبی دریافت کند.

خدمه «گئو بارنتس» اعلام کردند که روز شنبه به سوی یک سکوی نفتی متروکه در حرکت بوده اند که به گفته آژانس محافظت از مرزهای اتحادیه اروپا «فرانتکس» افراد نیازمند به کمک در آن جا پناه گرفته بودند.

بعد این کشتی در طول حرکت یک تماس تلیفونی از سوی الارم فون دریافت کرد که یک خط تیلفون اضطراری برای حمایت از مهاجرانی است که در شرایط خطرناکی به سر می برند. خدمه کشتی پس از این تماس تلیفونی به سوی یک قایق بادی در آن نزدیکی به راه افتادند که سرنشینانش را خطر غرق شدن تهدید می کرد.

خدمه «گئو بارنتس» پس از نجات بیش از ۶۰ تن از یک قایق بادی جسد یک زن را در آن جا پیدا کردند. یک زن دیگر که در شرایط صحی بسیار خطرناکی بود، پس از انتقال به کشتی نجات جان باخت.

در همین زمینه
کشتی نجات «گئو بارنتس» ۳۲ پناهجوی دیگر را از بحیره مدیترانه نجات داد

خدمه کشتی اعلام کردند که در نهایت ۱۹ تن را بر روی سکوی نفتی پیدا کرده اند .آن ها پس از این که آب به داخل قایق شان رخنه کرده بود، خود را با شنا به آن جا رسانده بودند. بنا به گزارش خدمه کشتی سه سرنشین دیگر در قایق باقی ماندند و پیدا کردن آن ها دیگر ممکن نبود.

بحیره مدیترانه جزو خطرناک ترین مسیرهای فرار در سراسر دنیا است. به گزارش سازمان بین المللی مهاجرت (آی او ام) در سال ۲۰۲۳ بیش از ۳۱۰۰ تن در طی عبور از این جا جان باخته و یا مفقود شدند. براین اساس از آغاز سال ۲۰۲۴ تا به حال شمار آن ها به ۱۷۸ تن رسیده است. رقم واقعی قربانیان احتمالا بسیار بالاتر از این است.

## تفاهمنامه آغاز مطالعات تخنیکی – اقتصادی پروژه خط آهن «افغان ترانس» امضا شد

آریانانیوز



**اداره خط آهن افغانستان روز سه‌شنبه (۱حوت) از امضای تفاهم‌نامه آغاز مطالعات تخنیکی – اقتصادی پروژه خط آهن «افغان ترانس» خبر داد.**

**این اداره گفته است که در جریان سفر بخت الرحمن شرافت، رئیس عمومی این اداره و هیات همراهش به ازبکستان، تفاهم‌نامه مهم جهت آغاز مطالعات تخنیکی و اقتصادی پروژه خط آهن «افغان ترانس» از جانب مسوولان افغانستان، ازبکستان و امارات متحده عرب امضا شد.**

**بر اساس این تفاهم‌نامه، شرکت الانیش مطالعات تخنیکی، اجتماعی و اقتصادی پروژه خط‌آهن افغان ترانس را با هزینه مالی خود انجام داده که بعداً نتایج این مطالعات جهت جذب سرمایه‌گذاری با نهادهای مالی، کشورها و تاجران از سوی افغانستان، ازبکستان و پاکستان به اشتراک گذاشته می‌شود.**

**همچنان در این مراسم تصمیم گرفته شد که هیات‌های افغانستان، ازبکستان و امارات متحده عرب چهارشنبه (۲حوت) در شهر تاشکند یک نشست آنلاین را در مورد این پروژه با مقام‌های قطر و پاکستان برگزار کنند.**

**پروژه خط آهن افغان ترانس با عبور از خاک افغانستان، آسیای مرکزی را با آسیای جنوبی وصل می‌کند که از مزارشریف آغاز و با طول ۶۴۷ کیلومتر با عبور از ولایت‌های سمنگان، بغلان، بامیان، میدان وردک، لوگر و پکتیا در ولسوالی دند پتان ولایت پکتیا با پاکستان وصل می‌شود.**

**این پروژه سال‌های زیادی زیر بحث بود که بعد از روی‌کارآمدن امارت اسلامی، سروی ابتدایی آن توسط تیم‌های تخنیکی خط آهن افغانستان، ازبکستان و پاکستان موفقانه انجام شد، مسیر آن توسط کابینه امارت اسلامی تایید، پلان عملیاتی یک‌ساله جهت پیش‌برد امور آن امضا و مطالعات ابتدایی آن انجام شد.**